پوښتنه : دابراهیم علیه السلام قبرپه کوم ځای کي دی؟.
ځواب : په الخلیل ښارکي .
پوښتنه : کوم رسول دخپل وخت دمالیي وزیروو؟ .
ځواب : یوسف علیه السلام .
پوښتنه : کوم پيغمبراوس هم ژوندی دی؟.
ځواب : عیسی علیه السلام .
پوښتنه : کوم پيغمبر بندي سو؟.
ځواب : یوسف علیه السلام .
پوښتنه : دکوم پيغمبر لقب ذوالنون وو؟.
ځواب : دیونس علیه السلام .
پوښتنه : له کوم پيغمبرسره غرونوتسبیح ویلې؟.
ځواب : له داوودعلیه السلام سره .
پوښتنه : خطیب الانبیاء دکوم پيغمبر لقب دی؟.
ځواب : دشعیب علیه السلام .
پوښتنه : روح الله او کلمة الله دکوم پيغمبر لقب دی؟.
ځواب : دعیسی بن مریم علیه السلام .
پوښتنه : کلیم الله دکوم پیغمبر لقب دی؟.
ځواب : دموسی علیه السلام .
پوښتنه : صادق الامین دکوم پيغمبرلقب دی؟.
ځواب : دمحمدمصطفی صلی الله علیه وسلم .
پوښتنه : صاحب الحوت دکوم پيغمبرلقب دی؟.
ځواب : دیونس علیه السلام .
پوښتنه : داسماعیل علیه السلام مورڅه نومېده؟.
ځواب : هاجره رضی الله عنها .
پوښتنه : دنوح علیه السلام قوم په څه شي تباه سو؟.
ځواب : په توپان .
پوښتنه :په قرآن شریف کي کوم پيغمبرپه دائمه توګه له خپلي مورسره ذکرسوی؟.
ځواب : عیسی بن مریم علیه السلام .
پوښتنه : کوم پيغمبرپه ښکلاکي مشهوروو؟.
ځواب : یوسف علیه السلام .
پوښتنه : کوم پیغمبرپه خلیفه الله مشهوردی؟.
ځواب : داودعلیه السلام .
پوښتنه :دکوم پیغمبرپلارنیکه ګان پیغمبران وو؟.
ځواب : یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم .
پوښتنه : چابني اسرائیل دسخوندرګي په عبادت اخته کړل؟.
ځواب : سامري .
پوښتنه : خاتم النبیین څوک دی؟.
ځواب : محمدصلی الله علیه وسلم .
پوښتنه : کوم پیغمبرخپل قوم اورته واچوی؟.
ځواب : ابراهیم علیه السلام .
پوښتنه :کوم پیغمبرخپل قوم ددوی په ویناپه صلیب راوځړوی؟.
ځواب : عیسی علیه السلام .
پوښتنه : دالیاس علیه السلام قوم چیري ژوندکوي؟.
ځواب : په معلبک کي .
پوښتنه : کوم پیغمبرته الله جل جلاله اوسپینه دموم په څېرنرمه کړه؟.
ځواب : داودعلیه السلام ته .

پوښتنه : دالیاس علیه السلام قوم دکوم بت عبادت کاوه؟.
ځواب :دبعل .
پوښتنه : دفرعون دښځي نوم چي پرموسی علیه السلام یې ایمان راوړ څه وو؟.
ځوا ب : آسیه بنت مزاحم .
پوښتنه : یونس علیه السلام دماهي په نس کي کومه دعاوکړه؟.
ځواب : (لااله الا انت سبحانک انی کنت من الظالمین) .
پوښتنه : دیعقوب څوزامن وو؟.
ځواب : دولس چي غوره یې یوسف علیه السلام وو.
پوښتنه : ایوب علیه السلام څوکاله دخدای په ازموینه کي تېرکړل؟.
ځواب : اتلس .
پوښتنه : دهغه ښار نوم چي یونس علیه السلام ورته مبعوث سوی وو څه وو؟.
ځواب : نینوا .
پوښتنه : دیوسف علیه السلام سکه وروړڅه نومېدی؟.
ځوا ب : بنیامین .
پوښتنه : دشعیب علیه السلام قوم کومهستره ګناه کوله؟.
ځواب : دکیل او میزان کمول .
پوښتنه : کوم ښارته لوط علیه السلام مبعوث سوی و؟
ځوا ب : سدوم ته .
پوښتنه : اصحاب ایکه څوک دي؟.
ځواب : دشعیب علیه السلام قومیان دي .
پوښتنه : دشعیب علیه السلام قوم چیري ژوندکاوی؟.
ځواب : دشام دمدین په ښارکي .
پوښتنه : دلوط علیه السلام دقوم ځای چیري دی؟.
ځواب : بحرمیت (مړسمندر).
پوښتنه : دابراهیم علیـــه السلام اولوط علیه السلام ترمنځ څه خپلوي وه ؟.
ځوا ب : لوط علیه السلام دابراهیم علیه السلام دورور زوی وو.
پوښتنه : داسحاق علیه السلام زامن څه نومېدل؟.
ځواب : ۱: - عیصو ۲: - یعقوب یا اسرائیل ( چي بني اسرائیل همده ته منسوب دي .)
پوښتنه : داسحاق علیه السلام مورڅه نومېده؟.
ځواب : ساره رضی الله عنها.
پوښتنه : په قرآن کریم کي دڅوپیغمبرانونومونه راغلي دي؟.
ځواب : دپنځه ویشتو .
پوښتنه : دعیسی علیه السلام دملګرولقب څه وو؟.
ځوا ب : حواریون .
پوښتنه : په قرآن کریم کي دکوم پیغمبردواده کیسه سوې ده؟.
ځواب : دموسی علیه السلام .
پوښتنه : دهغي ملکي نوم څه دی چـــي سلېمان علیه السلام یې ښار کلابندکړی وواووروسته دي هم ایمان راوړ؟.
ځواب : بلقیس (دسباء ملکه .)
پوښتنه : کوم پیغمبر تروفات وروسته پرلکړه تکیه کړې وه ؟
ځواب : سلیمان علیه السلام .

Download from:aghalibrary.cm

# اسلامي پوښتنې او ځوابونه